# هفته‌نامه اوونیزه

د صنعت او سوداګرۍ وزارت
ریاست اطلاعات و ارتباطات

سال هشتم | شماره ۱۴۶ | پنجشنبه | ۲ دلو ۱۴۰۴ | ۳ شعبان المعظم ۱۴۴۷


## تدویر دومین جلسه بورد مکانیسم جمع‌آوری عواید، تصدیق‌نامه مبدأ و ثبت انوایس




## د افغانستان اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ وزارت معین، مولوي احمدالله زاهد د مل رسمي پلاوي او شاوخوا ۵۰ کسه ملي سوداګرو په ملتیا د بنګله‌دېش هېواد ته رسمي سفر وکړ



جلسه رهبری هیئت تنظیم و ایجاد تاکل شوي ده چې په دې سفر کې به د افغانستان او بنګله‌دېش ترمنځ پر دوه‌اړخیزو تجارتي اړیکو، د سوداګرۍ د پراختیا، د صادراتو او وارداتو د اسانتیاوو، او د ګډو پانګیزو فرصتونو په اړه ... صفحه ۱

## نیمروز ولایت زرنج ښار کې دکورنیو تولیداتو او محصولاتو ملي نندارتون پیل شو



په زرنج ښار، نیمروز ولایت کې د کورنیو تولیداتو او محصولاتو درې ورځنی ملي نندارتون د سیکارام احمدي بازارموندنې شرکت او د صنعت او سوداګرۍ ... صفحه ٦

## سخن هفته

### هرکه بامش بیشتر، برفش بیشتر؛ بررسی انسداد تجاری با پاکستان

بسته ماندن مسیرهای تجارتی میان افغانستان و پاکستان، بدون تردید برای هر دو کشور هزینه‌زا بوده است. تجارت، برخلاف سیاست، صفر و یک نیست؛ وقتی متوقف می‌شود، معمولاً هر دو طرف می‌بازند. با این حال، آن‌چه در این بحران بیش از خود زیان اهمیت دارد، چگونگی، عمق و پیامدهای بلندمدت این زیان است؛ جایی که تفاوت اصلی میان افغانستان و پاکستان آشکار می‌شود.

افغان ها، اعم از تاجر و مسئولین رسمی کمتر از خسارات ناشی از این انسداد سخن می گوید. در مقابل، مقام‌های پاکستانی با صراحت و حتی نگرانی، از زیان‌های سنگین اقتصادی حرف می‌زنند. این تفاوت در روایت، تصادفی نیست و ریشه در ماهیت اقتصاد، جایگاه منطقه‌ای و محاسبات راهبردی دو کشور دارد.

وقتی مقام‌های پاکستانی از زیان ۲.۵ میلیارد دالری سالانه سخن می‌گویند، به چیزی فراتر از تجارت مستقیم با افغانستان اشاره دارند. پاکستان در سال‌های گذشته تنها صادرکننده کالا به افغانستان نبود، بلکه خاک افغانستان دروازه ترانزیتی این کشور به آسیای میانه نیز محسوب می‌شد. درآمدهای ناشی از ترانزیت، خدمات، ترانسپورت، بیمه، انبارداری و لوجستیک، بخش مهمی از اقتصاد حاشیه یی پاکستان را شکل می‌داد.

انسدادهای مکرر، بی‌ثباتی تصمیمات و استفاده سیاسی از تجارت، افغانستان را به سمت مسیرهای بدیل سوق داد؛ از بندر چابهار گرفته تا راه‌های آسیای میانه. این تغییر، برخلاف تصور، موقتی نیست. تجربه نشان داده است که وقتی یک کشور مسیر بدیل پیدا می‌کند، بازگشت به مسیر پرریسک قبلی بسیار بعید و پرهزینه خواهد بود. در نتیجه، پاکستان نه‌تنها بازار افغانستان را از دست داده، بلکه نقش ترانزیتی خود به آسیای میانه را نیز به‌تدریج تضعیف کرده است؛ نقشی که احیای آن در آینده، مستلزم هزینه‌های سیاسی و اقتصادی سنگین خواهد بود.

افغانستان با هزینه‌های کوتاه‌مدت، در حال پرداخت بهای کاهش وابستگی تاریخی خود به یک مسیر و یک کشور است. این هزینه برای اقتصاد افغانستان مسئله است، اما بلحاظ استراتژیک، یک انتخاب تعیین کننده برای تضمین امنیت اقتصادی دائمی است. چنانچه بزرگان گفته اند که هرکه بامش بیشتر، برفش بیشتر. اقتصاد پاکستان بزرگ‌تر، پیچیده‌تر و عمیقاً به شبکه‌های منطقه‌ای گره خورده است. هرگونه اختلال در این شبکه‌ها، اثرات سخت بر زنجیره‌ای تولید، اشتغال و جایگاه منطقه‌ای آن کشور می‌گذارد. در مقابل، اقتصاد افغانستان کوچک‌تر است؛ ضربه می‌خورد، اما چیزی برای از دست دادن در سطح ژئواقتصادی ندارد. پاکستان اما برفش بیشتر است؛ و دقیقاً به همین دلیل، برف انسداد تجارت بر بام پاکستان سنگین‌تر می‌نشیند. بدون شک تعداد از تجار ما درین مدت کالاهای شان در خاک پاکستان متوقف شدند و آن ها زیان دیده اند. اما موضع ا.ا.ا این درد مزمن را به بصورت دائمی درمان خواهد کرد. افغانستان این بار می خواهد با روی میز گذاشتن ناگفته های تاریخی خود، به آن رسیدگی عادلانه خواهد نمود.

## تدویر دومین جلسه بورد مکانیسم جمع‌آوری عواید، تصدیق‌نامه مبدأ و ثبت انوایس



دومین جلسه بورد مکانیسم جمع‌آوری عواید، تصدیق‌نامه مبدأ و ثبت انوایس با حضور رهبری اتاق‌ها و مسئول مرکز جمع‌آوری عواید، تحت ریاست محترم الحاج نورالدین عزیزی، وزیر صنعت و تجارت، برگزار گردید.

در آغاز این جلسه، محترم مولوی خان‌محمد، مسئول مرکز جمع‌آوری عواید، تصدیق‌نامه مبدأ و ثبت انوایس، در رابطه به فعالیت‌ها و کارکردهای این مرکز گزارش جامع و مفصلی ارایه نموده و به منظور پیش‌برد هرچه بهتر فعالیت‌های این مرکز، پیشنهادات مشخصی را شریک ساختند. در ادامه، محترم الحاج نورالدین عزیزی، وزیر صنعت و تجارت با تأکید بر این‌که امارت اسلامی از آنِ مردم افغانستان است، اظهار داشت که احکام بزرگان تطبیق و از فرامین آنان اطاعت می‌شود.

در اخیر، اشتراک‌کنندگان با انجام بحث‌های همه‌جانبه در مورد پیشنهادات مسئول مرکز جمع‌آوری عواید، بر اساس اولویت‌ها، فیصله‌های لازم را اتخاذ نمودند.

## د صنعت او سوداګرۍ وزارت معین، مولوي احمدالله زاهد د مل رسمي پلاوي او شاوخوا ۵۰ کسه ملي سوداګرو په ملتیا د بنګله‌دېش هېواد ته رسمي سفر وکړ.

ټاکل شوې ده چې په دې سفر کې به د افغانستان او بنګله‌دېش ترمنځ پر دوه‌اړخيزو تجارتي اړيکو، د سوداګرۍ د پراختيا، د صادراتو او وارداتو د اسانتياوو، او د ګډو پانګيزو فرصتونو په اړه هر اړخيز بحثونه ترسره شي. همداراز به د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګريزو همکاريو د پياوړتيا او د ګډو تفاهمنامو د لاسليک پر لارو چارو خبرې وشي.

د ياد سفر موخه د افغانستان د ملي سوداګرو لپاره د نوو بازارونو موندل، د افغانستان د توليداتو لپاره د صادراتي فرصتونو پراخول، او د سيمې په کچه د اقتصادي همکاريو پياوړتيا بلل کېږي.

د صنعت او سوداګرۍ وزارت ټينګار کوي چې دا ډول سفرونه د هېواد د اقتصادي ودې، د سوداګرۍ د پراختيا او د ملي اقتصاد د پياوړتيا لپاره مهم او اغېزناک رول لري.



# د افغانستان اسلامی امارت د صنعت او سوداگرۍ وزارت مرستیال له خپل بنگله دیشی سیال سره وکتل



د صنعت او سوداگرۍ وزارت معین مولوي احمدالله زاهد او ورسره مل پلاوي د بنګله‌دیش د صنعت او سوداګرۍ وزارت له مرستیال ښاغلي محبوب الرحمن سره وکتل.

د غونډې په پیل کې د کوربه هیواد د صنعت او سوداګرۍ وزارت مرستیال ښاغلي محبوب الرحمن د اسلامي امارت د پلاوي تود هر کلی و کړ او د دواړو هیوادونو ترمنځ د اړیکو د پراخېدو په اړه يې خوښي ښکاره کړه. وروسته دواړو لورو د سوداګریزو تفاهمنامو په لاسلیک، بانکي اسانتیاوو، افغان توکو ته د ترجیحي تعرفې پر ور کړه، د سوداګریز حجم په زیاتوالي او افغانستان ته د ادویه جاتو او تېوکرانو پر واردولو هر اړخیز بحث و کړ چې په پایله کې په کابل او ډهاکه کې د ګډو نندارتونونو پر دائیرولو، په دواړو هیوادونو کې د سوداګریزې اتاشې پر معرفي کولو، او د سوداګریزو خنډونو د له منځه وړلو په موخه دګډې کمیټې په ایجاد هوکړه و شوه.

دواړو خواوو ټینګار وکړ چې د افغانستان او بنګله‌دیش ترمنځ موجود سوداګریز فرصتونه کولای شي د اقتصادي اړیکو د لا پراختیا لپاره ښه زمینه برابره کړي، او په راتلونکي کې د ګډو همکاریو د دوام په اړه يې کابل او ډهاکه کې د ورته ناستو دوام ته خپل چمتووالی ښکاره کړ.



# د افغانستان اسلامی امارت د صنعت او سوداګرۍ وزارت مرستیال د بنګله دېش هیواد د نړیوال سوداګریز نندارتون لیدنه وکړه

تېره ورځ په ډاکه کې د ۳۰م نړیوال سوداګریز نندارتون په څنډه کې د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزارت مرستیال مولوي احمدالله زاهد د بنګله دېش هیواد د صادراتو ودې اداري مشر ښاغلي محمد حسن عارف په ملتیا د نندارتون له رسمي برخې څخه لیدنه وکړه. په دې پروګرام کې د بنګله دېش حکومتي استازو، د سوداګرۍ خونې غړو، ځایي سوداګرو او د افغانستان څخه راغلي پلاوي ګډون درلود.

د لیدنې پر مهال افغان پلاوي د بنګله دېش د نندارتوني غرفو، په ځانګړي ډول د درملو، نساجۍ او صنعتي محصولاتو له برخو څخه کتنه وکړه او د بنګله دېشي تولیداتو د کیفیت او تنظیم ستاینه یې وکړه. افغان لوري یادونه وکړه چې دا ډول نړیوال نندارتونونه د متقابلې پېژندنې، باور جوړونې او سوداګریزو اړیکو د پراختیا لپاره مهم فرصت برابروي.

د ناستو پر مهال د دواړو هېوادونو استازو د سوداګرۍ د پراختیا پر امکاناتو خبرې وکړې. بنګله دېشي لوري څرګنده کړه چې چمتو دی افغانستان ته په منظم او دوامدار




ډول معیاري درمل او طبي محصولات صادر کړي، څکه چې د دوی درمل جوړونې سکتور پرمختللی او د نړیوالو معیارونو سره برابر دی. افغان پلاوي دا چمتووالی د هېواد د روغتیایي اړتیاوو لپاره مهم وباله او ټینګار یې وکړ چې د دواړو هېوادونو اقتصادونه یو بل بشپړولای شي، او پر ګډو سوداګریزو ناستو، B۲B اړیکو او رسمي همکاریو هم خبرې وشوې.

په پای کې دواړه لوري توافق ته ورسېدل چې خپلې اړیکې له دوستانه کچې څخه عملي اقتصادي مشارکت ته لوړې کړي، څو د سوداګرۍ حجم زیات، متقابل باور پیاوړی او د دواړو ملتونو لپاره ملموسې اقتصادي ګټې رامنځته شي.



# د صنعت او سوداګرۍ وزارت مرستیال د بنګله‌دېش هېواد د جامو تولیدونکې او صادروونکې ټولنې له مشر سره وکتل



د صنعت او سوداګرۍ وزارت مرستیال مولوي احمدالله زاهد او ورسره مل پلاوي د بنګله‌دېش هېواد د جامو د تولیدوونکې او صادروونکې ټولنې (BGMEA) له رئیس سره ولیدل؛ په دې لیدنه کې له افغانستان څخه بنګله‌دېش ته د پنبې د صادراتو د زیاتوالي په اړه هر اړخیز بحث وشو، همدارنګه د ګډو همکاریو او سوداګرۍ د دواړخیزو اسانتیاوو د رامنځته کولو په اړه خبرې وشوې.

د BGMEA رئیس زیاته کړه، څرنګه چې افغانستان د لوړ کیفیت پنبه لري، بناءً د بنګله‌دېش هېواد د رخت تولیدوونکې شرکتونه لېواله دي چې د افغانستان د پنبې له سوداګرو سره مستقیم قراردادونه لاسلیک کړي.

د BGMEA رئیس په خپلو خبرو کې د یادې ټولنې شالید ته په اشاري وویل: دا ټولنه د بنګله‌دېش تر ټولو لویه ټولنه ده، چې تر چتر لاندې یې څلور زره د رخت تولیدوونکې فابریکې فعالیت کوي او هر کال شاوخوا ۴۰ میلیارده امریکایي ډالره صادرات لري. همدارنګه، د بنګله‌دېش هېواد د پنبې د واردوونکو هېوادونو په قطار کې دویم مقام لري.

ښاغلي زاهد د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګریزو اړیکو پر پیاوړتیا ټینګار وکړ او زیاته یې کړه، چې د دواړو هېوادونو تاریخي اړیکې، اسلامي ورورولي او ګډ سوداګریز فرصتونه کولای شي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچه لوړه کړي.

ناسته د دواړو لوریو له‌خوا د متقابلو سوداګریزو همکاریو، د افغان پنبې لپاره د نوي بازار د پیدا کولو او د نساجۍ په برخه کې د عملي تعامل لپاره یو مهم ګام بلل کېږي.



# د افغانستان اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ وزارت معین د بنګله‌دېش هېواد د درملو تولیدي فابریکو څخه لیدنه وکړه



د افغانستان اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ وزارت معین، مولوي احمدالله زاهد، او ورسره مل پلاوي د بنګله‌دېش هېواد په پلازمېنه ډاکه کې د درملو له دوو سترو او پېژندل شوو تولیدي فابریکو BEXIMCO Pharmaceuticals Ltd او RENATA PLC څخه لیدنه وکړه.

یادې فابریکې د بنګله‌دېش د پرمختللو تولیدي شرکتونو له ډلې څخه دي، چې خپل درمل شاوخوا ۵۰ هېوادونو ته صادروي.

په دې لیدنه کې مولوي احمدالله زاهد د بنګله‌دېش د درملو صنعت کارانو ته بلنه ورکړه، تر څو په افغانستان کې د درملو د تولید په برخه کې پانګونه وکړي. نوموړي زیاته کړه چې په افغانستان کې بشپړ امنیت تأمین شوی، اسلامي امارت د صنعت او تولید ملاتړ کوي، او د پانګونې لپاره هر ډول لازمي اسانتیاوې برابرې شوې دي.

همدارنګه، د اسلامي امارت د عامې روغتیا وزارت د درملو او روغتیایي محصولاتو د تنظیم لوی رئیس، ښاغلي ډاکټر نعیم‌الله ایوبي، د بنګله‌دېش د درملو صنعت کارانو ته د عامې روغتیا وزارت د نافذه قوانینو له مخې د هر اړخیزې همکارۍ ډاډ ورکړ.

مولوي احمدالله زاهد له یادو فابریکو څخه په داسې حال کې لیدنه وکړه چې افغان سوداګرو هم ورسره ملتیا کوله.

د دې لیدنې په ترڅ کې افغان سوداګرو د بنګله‌دېش د درملو له تولیدي فابریکو سره د مستقیمو قراردادونو پر




لاسلیک او افغانستان ته د بنګله‌دېش څخه د درملو د واردولو پر موضوع توافق وکړ.



MINISTRY OF INDUSTRY & COMMERCE
DEPARTMENT OF INFORMATION & COMMUNICATIONS
weekly
YEAR 8 ISSUE 146 Thursday 22/1/2026

# نیمروز ولایت زرنج ښار کې دکورنیو تولیداتو او محصولاتو ملي نندارتون پیل شو

په زرنج ښار، نیمروز ولایت کې د کورنیو تولیداتو او محصولاتو درې ورځنی ملي نندارتون د سیکارام احمدي بازارموندنې شرکت او د صنعت او سوداګرۍ محترم وزارت په همکارۍ ترتیب شوی، پیل شو.
په دې نندارتون کې د هېواد له بېلابېلو سیمو څخه نږدې ۵۰ غرفې جوړې شوې دي، چې پکې د خوراکي توکو، صنعتي تولیداتو، لاسي صنایع او درملو او طبي محصولات نندارې ته وړاندې شوي.
د نندارتون پرانیستلو په مراسمو کې د نیمروز د والي مرستیال، مولوي نورجان احمدي ګډون وکړ او د ګډونوالو هڅې یې وستایلې. هغه وویل چې دا ډول نندارتونونه د سیمه‌ییز اقتصادي پرمختګ، د کورنیو صنعتونو د ودې او د افغان تولیداتو د بازار موندنې لپاره مهم فرصتونه برابروي د نیمروز د صنعت او سوداګرۍ د ریاست رییس، فضل محمد فاضل هم ګډونوالو ته ډاډ ورکړ چې ریاست به له تولیدونکو سره په بازار موندنه، د تولیداتو د کیفیت لوړولو او د سوداګرۍ په پراختیا کې هر اړخیز ملاتړ وکړي.







